سر یال نمبر: 478

بِسمِ اللہِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# شمالي وزيرستان: د امنيتي ځواکونو لويه بريا
# ډيری مطلوب ترهګر وژل شوی

د ميرانشاه په مضافاتو سپلګه کې امنيتي ځواکونو په يو لړ عملياتو کې تر ټولو مطلوب ترهګر وژلی دی، وسلې، چاودېدونکو توکی او مخابراتي وسايل برآمد۔

**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د مطلوب ترهګر رحمت شاه پټنځای محاصره کولو او هغه ته د تسليميدو موقع ورکړه، خو کله چې د وداني څخه ډزې پيل شوې، نو امنيتي ځواکونو ځوابي بريد کې ياد ترهګر وژلی دی۔ د ډزو په تبادله کې يو امنيتي سرتېری شهيد شو۔**



**ترهګر رحمت شاه په بهته خوري، په بې ګناه خلکو د بمي بريدونو او د امنيتي ځواکونو پر ضد په ګڼو ترهګريزو عملياتو کې مطلوب و، چې وژل يې يقينا د امنيتي ځواکونو لپاره لويه بريا ده۔**

په ميرانشاه او شاوخوا سيمو کې ځای پر ځای شوي امنيتي پرسونل په مسلکيتوب او همغږي ستراتيژۍ سره په دوامداره توګه ترهګر له منځه وړي، په داسې حال کې چې خوارج پټيدو په کوشش کوی او دوزخ ته ځي۔ انشاءاللہ د خوارج د له منځه وړلو لړۍ به دوام لري۔

مورخه: ۳ مارچ ۲۰۲۴ء